التعليم فوق الجميع | education above all

## تمثيل يې کړئ (دريمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضيح | د يوې اونۍ په جريان کې، زده کوونکي به په ځينو کليدي ډرامو باندې د ډرامې او د جانرا د مفاهيمو د پېژندلو لپاره تمرين وکړي ترڅو يو ممثل ورڅخه جوړ شي. |
| مخکښه پوښتنه | ډرامه څنګه کولی شي يوه نظريه وړاندې کړي؟ |
| ټولټال اړين وخت | په ۵ ورځو کې ۴.۵ ساعته |
| د اړتيا وړ سرچينې | ورقې، پنسل، يوه وړه لښته، او د لوبو لپاره د اوړو زغاله |
| د زده کړو پايلې | - په مختلفو جانراو کې د ليکنو مقايسه او تفکيک کول (فرق ويل)<br>- روښانه او همغږي ليکنه رامينځته کړئ په کوم کې چې وده ، تنظيم او سټايل د دندې ، هدف او ليدونکو لپاره مناسب وي.<br>- د همکارانو او لويانو په لارښوونو او ملاتړ سره، د پلان کولو، بياکتنې، ايډيټ کولو، بيا ليکلو، يا د يوې نوې طريقې هڅه کولو له لارې د اړتيا سره سم ليکلو ته وده او پياوړتيا ورکړئ.<br>- په پراخه کچه د همکارۍ بحثونو کې مؤثره ونډه واخلئ.<br>- خپله وينا مو د مختلفو شرائطو او دندو سره موافقه کړئ په داسې حال کې چې په رسمي (ادبي) خبرو کولو باندې خپله وړتيا وښاياست. |
| مخکينۍ زده کړې | زده کونکي بايد وکولی شي د يو لړ دندو، موخو او ليدونکو لپاره د اوږدې مودې لپاره ليکل وکړي. |

# لومړۍ روځ

نن ورځ به تاسو زده کړی چې ډرامه څه شی ده!

| وړانديز شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| ۵ دقیقې | لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:<br>• کله چې تاسو د ډرامې کلمه واورئ، ستاسو ذهن ته څه راځي (تاسو د څه په اړه فکر کوئ)؟<br>**«ډرامه داسې یوه کیسه ده چې د کرکټرونو په منځ کې د ډیالاګ یا محاورې له لارې ویل کېږي.»**<br>• د ډرامې او د یوې کیسې په لوستلو کې څه توپیر دی؟ |

| | |
|---|---|
| | • ستاسو له نظره په دې دواړو کې کوم یو یې ډېر ښه دی او لامل یې څه دی؟ |
| ۱۵ دقیقې | **د تقلید کولو لوبه**<br>1. د خپلې کورنۍ د یوه غړي او یا هم د یوه ملګري په څېر د خبروکولو پرته تمثیل ترسره کړئ.<br>2. نور زده کوونکي باید هڅه وکړي چې دا معلومه کړي چې تاسو د چا تقلید کوئ، تاسو به یوه نمره د سم اټکل کولو لپاره ترلاسه کړئ.<br>3. د یوه پړاو په ختمیدلو سره تاسو د یو شخص تقلید د خبرو کولو له لارې ترسره کړئ (تاسو باید د هغو خبرو تقلید وکړئ چې هغوی یې ډېرې ځل وایي). د هغوی د غږ په شان د خبرو کولو هڅه هم وکړئ!<br>ددې فعالیت د ترسره کولو څخه وروسته، د لاندې نقطو په اړه فکر وکړئ:<br>1. د اړیکو ټینګولو بېلابېلې لارې یا طریقې<br>2. کله چې تاسو ډیالاګ (محاوره) او غږ دواړه تقلید کړل، تاسو کوم توپیر ولیده؟ |

۲۰ دقیقې

**د فریز کیدلو فعالیت (ځای پرځای تم کیدل)**

ددې لوبې ترسره کولو لپاره تاسو باید په قطار کې (د یو بل شاته) ودریږئ. لومړنی شخص باید یو حالت، عمل او یا هم یوه سیناریو انتخاب کړي ترڅو هغه تمثیل کړي. دوهم شخص باید همدغه سیناریو یا عمل ته یو عکس العمل وښيي. او دریم شخص باید د دوهم شخص عکس العمل ته بل عکس العمل وښيي.

د بیلګې په توګه:

| لومړی لوبغاړی | دوهم لوبغاړی | دریم لوبغاړی |
| --- | --- | --- |
| **د تمثیل لپاره یو سیناریو انتخاب کړئ**<br>بیلګه: د سوک وهلو یو حرکت | **۱ لوبغاړي عمل ته عکس العمل ښيي**<br>د سوک خوړلو له وجهې غورځیدل | **۲ لوبغاړي ته عکس العمل ښيي**<br>د لومړي لوبغاړي د نیولو هڅه |

دا لوبه تر هغه دوام پیدا کوي ترڅو چې هر لوبغاړي ته د عکس العمل کولو فرصت لاسته ورشي. له دې څخه وروسته، دوی کولی شي خپل ځانونه له دغه حالته څخه خلاص کړي او په یوې نوې سیناریو باندې کار ترسره کړي.

۲۰ دقیقې

**علت او اغیزه**

« زموږ په چار چاپیر او په ټوله نړۍ کې چې هر څه پیښیږي یو علت (دلیل) لري او یوه پایله هم لري چې د اغیزې په نامه سره یادیږي.»

داسې کلمې وکاروئ چې د هغوی په واسطه تاسو وکولای شی د علت او اغیزې په اړه په یوه حالت او یا هم په یوه پیښه کې خبرې وکړای شی.





۵ داسې پیښې لیست کړئ چې ستاسو په شا او خوا کې ترسره کیږي. د هرې پیښې لپاره، تاسو باید د هغه عمل د علت او اغیزې په اړه لیکل وکړئ.

**دوهمه ورځ**

نن ورځ به تاسو د يوې کيسې په اړه فک وکړی چې تاسو غواړی هغه تمثيل کړئ او همدا راز د هغې کيسې لپاره به تاسو يو داستان او نقشه جوړه کړی.

| فعاليت او توضيحات | وړانديز شوی وخت |
| --- | --- |
| لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:<br>ستاسو په اند تمثيل کوونکي څنګه پوهيږي چې د سټيج پر سر باندې څه ووايي او څنګه تمثيل ترسره کړي؟<br><br>خپلې ډرامې لپاره يو داسې ډايلاګ (محاوره) وليکئ چې کرکټرونه به يې يو بل ته وايي.<br><br>د بېلګې په توګه: | ۳۰ دقيقې |
| پردې پرانيځئ. سارا را ننوځي. علي را ننوځي. سارا او علي په داسې حال کې چې دې ځای ته را داخليږي له يو بل سره به خبرې کوي.<br><br>**د کيسې ويونکی**: د ۲۰۰۸ م کال د دوبۍ يو روښانه سهر وه. علي او د هغه خور سارا ددې په اړه خبرې کولې چې خپلې روخصتۍ به کور کې څنګه تيرې کړي.<br><br>**سارا**: مونږ کولی شو په ونه کې يو کور جوړ کړو! او يا نوې لوبې جوړې کړو! او يا هم د خپل نيا او نيکه کور ته ولاړ شو.<br>**علي**: (په غمګينه توګه) سارا، زه يواځې غواړم چې په کور کې تنها واوسم<br>**سارا**: (د علي لاس نيسي) علي، ته ښه يې؟ څنګه داسې خواشينی ښکارې؟<br><br>د سټيج لارښوونې او ويونکی څه شی دي؟<br><br>« ډرامې معمولا يو د کيسې لوستونکی (ويونکی) لري. دا شخص ليدونکو ته د صحنې په اړه اضافي معلومات ورکوي.»<br><br>د سټيج لارښوونې د تمثيل ټيم او تمثيل کوونکو لپاره د لارښوونو يوه مجموعه ده.<br><br>تاسو همدا راز کولی شی د عملونو سره سره د احساساتو په اړه هم په خبرو اترو کې ليکل وکړئ. | |


| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | **۳ بعدي شکلونه**<br><br>ددې فعالیت د ترسره کولو لپاره باید تاسو په جوړه کې کار وکړئ.<br><br>**څنګه دا لوبه ترسره کړو:**<br><br>1. لوبغاړی د یو ۳ بعدي شکل په اړه خبرې کوي<br>2. د یوې اندازې خټې/وړو او کوچنیو لښتو په کارولو سره یو شکل جوړ کړئ.<br>3. د مخونو، اړخونو او سرونو تعداد د هر شکل لپاره وشمېرئ.<br>4. هر هغه لوبغاړی چې خپل موډل تر ټولو دمخه بشپړ کړي او د مخونو، اړخونو او سرونو شمیر ووایي، یوه نمره تر لاسه کوي.<br><br>د بیلګې په توګه:<br>یو لوبغاړی وایي «مثلثي شکل هرم»<br>باقي نور ټول لوبغاړي باید لاندې عمل ترسره کړي: |



- لوبغاړي وايي: دا شکل ۴ سرونه او ۴ مخونه لري....

- هر هغه لوبغاړی چې تر ټولو د مخه دا شکل بشپړ کړي یوه نمره ترلاسه کوي.

تاسو کولی شی دا لاندې تصویر د یو لارښود په حیث وکاروئ:




په ډرامه کې صحنې ته د معنی ورکولو لپاره ځینې شیان شتون لري، د بیلګې په توګه که چیرې صحنه د یو چا په اړه وي چې ګرځنده تلیفون کاروي، د ګرځنده تلیفون درلودل مهم دي. دغو شیانو ته پراپس (د صحنې د جوړولو توکي) ویل کیږي.
تاسو کولی شی هغوی ددغو ۳ بعدي شکلونو په کارولو سره جوړ یا چمتو کړی.

## دريمه ورځ


نن ورځ به تاسو د احساساتو د تمثیل کولو په اړه زده کړه ترلاسه کړئ.

| وړاندیز شوي فعالیتونه | فعالیت او توضیحات |
|---|---|

٢٠ دقيقې

**له احساساتو سره خبرې کول**

هڅه وکړئ چې یوه جمله د لاندې احساساتو په ښودلو سره د لاسونو د حرکت ولو څخه پرته ووایاست.




تاسو کولی شی د لاندې جملو په ویلو سره خپله هڅه وکړی:

- آیا زما سره مرسته کولی شی؟
- ما خپل کار نن بشپړ کړ.
- زه تاته باید یو څه ووایم.
- کچیرته تاسو ترجیه ورکوی چې خپله یوه جمله ولیکۍ، تاسو کولی شی هغه وکاروی.

له دې څخه وروسته د ۲ یا ۳ نورو سناریو په هکله فکر وکړئ.

د بیلګې په توګه:

- یو ښوونکی له یوه زده کوونکي څخه پوښتنه کوي چې هغه ولې خپله کورنۍ دنده نده ترسره کړې.
- یو ډاکټر چې یو مریض ګوري.
- د تلویزیون یو خبریال چې د یو مشهور فلم لوبغاړي څخه پوښتنې کوي.
- پولیس چې د یوه مشکوک شخص سره خبرې کوي.

د یوې سناریو له انتخابولو څخه وروسته، د یوې کورنۍ له غړي او یا هم له یوه ملګري سره ددا سناریو له مبیلابیلو احساساتو سره تمثیل کړئ. ځینې احساسات په لاندې ډول سره دي: زړه تنګوالی، ډار، په پیاوړي توګه، په قهر


له دې څخه وروسته د لاندې نقطو په اړه فکر وکړئ:

- د بیلابیلو احساساتو سره د بدن حرکات څنګه تغیر مومي؟
- آیا زموږ احساسات زموږ په خبرو باندې کومه اغیزه کوي؟ څنګه اغیزه کوي؟
- مختلفو ډایلاګونو (خبرواترو) ته ځینې احساسات په خپل متن کې ځای پر ځای کړئ.

| | |
|---|---|
| ۱۵ دقیقې | **حنجره**<br>په دې فعالیت کې به تاسو د ساه اخیستلو یوه لاربښوونه ترسره کړی:<br><br>1. خپلې پښې له یو بل څخه لرې ونیسئ او ودریږئ. خپلې سترګې بندې کړئ.<br>2. ساه واخلئ. کله چې بیرته ساه اوباسی، ووایئ: آهههههههههههه (دا عمل ۳ ځلې تکرار کړئ.)<br>3. ساه واخلئ. کلکه چې بیرته ساه وباسی، ووایئ: اوهههههههه (دا عمل ۳ ځلې تکرار کړئ.)<br>4. ساه واخلئ. کله چې ساه وباسی، ووایئ: امممممممممم (د عمل ۳ ځلې تکرار کړئ.)<br><br>ددې فعالیت د ترسره کولو څخه وروسته تاسو څنګه احساس لری؟ |

## څلورمه مورځ

نن ورځ به تاسو خپل نمایش تمرین کړئ او د بلن لیکونه به چمتو کړی.

| ورانډیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۵ دقیقې | **د غږ تمرین**<br><br>ددې فعالیت د ترسره کولو لپاره، تاسو باید د څلورو یا له څلورو څخه د ډیرو په یوه ډله کې واوسي.<br><br>**دا لوبه څنګه وکړو؟**<br><br>په قطار کې ودریږئ:<br><br>- داسې خبرې وکړئ چې یوازې لومړی شخص ستاسو غږ واوري. او بیا، دوهم او دریم شخص.<br>- فکر وکړئ چې تاسو یو راز له یو چا سره شریکوی. دریم شخص باید وکړای شي چې ستاسو غږ واوري.<br>- یو څه په قهر سره ووایه. لومړی شخص باید داسې فکر ونکړي چې ته چیغه وهې. |
| ۲۵ دقیقې | **د تمرین کولو وخت** |

| | |
|---|---|
| | هغه متن چې تاسو په دوهمه ورځ کې لیکلی وه په خپل ذهن کې ونیسئ، تاسو باید:<br><br>1. پریکړه وکړی چې ستاسو د لیکل شوي متن لپاره باید کوم کرکټر ولوبول شي.<br>2. د مناسب غږ، احساساتو، او عملونو سره د ډایلوګ د وړاندې کولو تمرین وکړئ. |
| ۱۰ دقیقې | **غږ د یوه حرکت په حیث**<br><br>د لاندې غږونو تقلید یواځې د خپل غږ په واسطه ترسره کړئ. نور زده کوونکې به ستاسو د تقلید په اړه خپل اټکل ووایي.<br><br>• مرۍ کول<br>• چوکۍ لرې کول<br>• د قینچې غږ<br>• د اوبو د غورځیدلو غږ<br>• د میوه خرڅوونکي غږ<br>• د روان موټر غږ<br>• د لرګي ماتولو غږ<br>• د جارو کولو غږ<br><br>تاسو همدا راز کولی شی په یوه ورقه کې دوه غږونه د نورو لپاره ولیکئ ترڅو هغوی یې تمثیل کړي او تقلید یې وکړي.<br><br>د لوبې کولو څخه وروسته، د لاندې نقطو په اړه فکر وکړئ:<br><br>د غږ په واسطه مونږ په کومو شیانو باندې کولی شو پوه شو؟<br><br>وروسته، تاسو باید نور غږونه، موسیقي او یا هم سندرې په خپله لوبه کې اضافه کړی ترڅو هغه ډیره جالبه او خوندوره شي او د کیسی د داستان ملاتړ وکړي. |

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | **بلن لیکونه** |

ستاسو د ډرامې لیدلو لپاره خپلې کورنۍ او ملګرو ته بلن لیکونه ډیزاین او چمتو کړئ.

ستاسو بلن لیکونه باید لاندې معلومات له ځانه سره ولري:




د خپلې کیسې د داستان په پام کې نیولو سره، خپل د بلنې کارټ/لیک لا ډیر ښکلی کړئ. تاسو کولی شئ نور معلومات هم پکې اضافه کړئ.

د میلمنو یو لیست جوړ کړئ او بلن لیکونه پرې وویشئ.

## پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو نور معلومات هم چمتو کړئ او خپلې ډرامې به وړاندې کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| **۴۰ دقیقې** | نن ورځ به تاسو خپله ډرامه وړاندې کړئ.<br>ددې فعالیت د ممکن کولو لپاره، تاسو باید لاندې برخې مشخصې او معلومې کړئ:<br><br>- جامې<br>- له احساساتو سره د ډایلوګ تمرین کول<br>- د صحنې لپاره موسیقي<br>- تنظیمات او موزئن کوونکې<br>**د ډرامې وړاندې کول:**<br><br>خپله ډرامه د ځانګړو میلمنو او لیدونکو مخې ته وړاندې کړئ.<br><br>د ډرامې د وړاندې کول څخه وروسته، لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:<br><br>● آیا لیدونکو ستاسو ډرامه خوښه شوه؟<br>● کوم دوه شیان ډیر ښه مخې ته ولاړ؟<br><br>● کوم شی کولای شی له دې څخه هم بهتر کړی؟<br><br>د خپلو هغو پوښتنو ځوابونه ولولئ چې تاسو په لومړی ورځ کې جوړ کړي ول او ددې په اړه بحث وکړئ چې ستاسو نظر څومره تغیر پیدا کړی دی.<br><br>لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:<br><br>ډرامه څنګه کولی شي یوه نظریه تقدیم کړي؟ |

| | |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | **د کیسې ویل**<br><br>لاندې کیسه ولولئ او بحث پرې وکړئ.<br><br>**د ستیج ویره**<br><br>لیکوال: یامیني ویجایان<br><br>په دې لویه نړۍ کې د چمپا سندرې ویل له ټولو کارونه څخه ډیر خوښیدل. کله به چې هغې سندرې ویلې، هغه به په خپله نړۍ کې له خوښیو ډکیده. هغې په حمام او د بام په سر سندرې ویلې. هغې به غونډیو ته او سپوږمۍ ته سندرې ویلې. هغې به د زمري او د شاتو د مچیو په شان سندرې ویلې. هغې به په باران او توده هوا کې سندرې ویلې. یوه ورځ چې چمپا سندرې ویلې، باسینتۍ خوښ شه. هغه وویل، " زه یوه حیرانونکې نظریه لرم." باسینتۍ د چمپا ښه ملګرې ؤ. هغه به تل ډیر نظرونه لرل. ځینې نظرونه یې ګواښونکې ول. او ځینې نظرونه یې ویرونکې ول. باسینتۍ وویل، " ته باید د کال په ورځ سندرې ووایې!" چمپا وویل، " څومره بد نظر!" باسینتۍ وویل، " ولې یې نه وایې! ته خو سندرې ویل خوښوې." له دې مخکې چمپا هیڅکله باسینتۍ ته نه وه ویلې چې هغه کله یو ځل ستیج ته وخته او نزدې وه چې له ویرې بې هوښه شوې وه. هغې وویل، " زه ... زه نشم کولای د ډیرو خلکو مخکې سندرې ووایم." |

چمپا دا خبره وکړه، "زه حتی نشم کولای د مور او پلار مخکې سندرې ووایم!" باسینټ وویل، " چمپا، ته زما شاوخوا سندرې ووایه! کوم څه ته چې اړتیا لرې هغه لږ تمرین ده." که ماهي او پاراس ما پورې وخاندي؟" باسینټ وویل، "که هغوی دا کار وکړي، هغوی به ساده ګان او کنجوسان وي. ته یوه حیرانونکې سندرغاړې یې." ۵۷ کلنې یامیني ویجایان د ستیج ویره لیکلې، ډیری په دې آند دي چې د هغې سندرې ویل د ستیج پر سر د ډیرو خلکو مخکې هغه عصبي کړې وه.

چمپا خوښه وه او په ورته وخت کې ویریده، خو د هغې سندرې ویل ډیر خوښیدل! هغې د سندرې ویلو پریکړه وکړه. چمپا په دقت سره څو ورځې تمرین وکړ. هغې پر خپل غږ تمرین وکړ تر څو تر ټولو ښه غږ شي. د چمپا د لویې ورځې لپاره هر یو خوښ وو. هغې خپله مشوره ورکړه: د سندرې ویلو څخه مخکې، چمپا حتی یو ځانګړی تمرین وکړ. دا یو ښه بریالیتوب ؤ. په پای کې، هغه لویه ورځ راغله.

کله چې د هغې د سندرې ویلو نوبت راغی، د هغې ژبه درنده شوه. ستیج ډیر لوی ده! روښنایي ډیره ده! په تالار کې ډیر خلک دي! د چمپا ستونی بند شه، او لاسونه یې خولې شول. د ستیج په ۵۸ ویریدلې ځل کې هغې ته ور په زړه شول چې ناستو خلکو ته موسکا وکړي.

کله چې هغې په سندرې پیل وکړ، یو غږ یې واوریده. داسې لکه څوک چې د هغې غږ زمزمه کوي. چمپا یوه ژوره ساه او اوږده ساه واخیسته او بیا یې کوښښ وکړ... یوه چیغه را پورته شوه! آوریدونکو یوه لنډه ساه واخیسته. د چمپا زړه په لوړ غږ ګړبیده . ګړب! ګړب! سر یې په ګرځیدو پیل وکړ. په همدې وخت کې هغې باسینټ ولید چې لاس یې ورته خوځاوه.

هغه ډیره خوښه شوه چې باسینټ یې ولید. نو هغې بیا کوښښ وکړ. لومړی، سندره آرامه وه. که څه هم د هغې غږ ګډ وډ وه، خو آواز یې یو څه ښه ؤ. بیا ورو، ورو د هغې موسیقي پیل شوه او ساز یې غښتلی او خوندور ؤ. د ستیج لوی والی او د روښنایي ډیر والی څه خبره نه وه. یا حتی د آوریدونکو ډیربښت هم کومه خبره نه وه. چمپا خپل غږ خپور کړ. او کله چې هغې دا کار وکړ، هغه د نړی له خوښیو ډکه شوه.

1. آیا تاسو یا هغه کسانو چې تاسو یې پیژنئ د ستیج ویره تجربه کړې ده؟
2. د دغې اصطلاح " له یو څه ویریدل" څه معنی لري؟
3. فکر وکړئ چې تاسو باسینټ یاست. چمپا ته یوه ورځ مخکې د کال د ورځې په پار یو لیک ولیکئ او هغه د ښه کار کولو لپاره و هڅوئ.

## د ارزونې معیارونه

- زده کوونکي په فعاله توګه ګډون او يو بل ته د ډرامې د سرته رسولو په وخت کې غوږ ونيسي.
- زده کوونکي د خپلو ډرامو سرته رسولو د ځواک او ودې فرصتونه و پيژني.
- زده کوونکي دې خپلو کورنيو ته بلنليکونه جوړ کړي چې د لوبې ټول اړوند معلومات پکې وي.
- زده کوونکي به د ډرامې کرکټرونه وپيژني او په متن کې چې هغوی يې ليکي ور تطبيق کړي.
- زده کوونکي به دغې پوښتنې ته ځواب ووايي "څنګه ډرامه يوه نظريه بيانولی شي؟ هغوی به ځوابونه په ۱ – ۲ مثالونو کې چې د پروژې له فعاليتونو څخه تر لاسه شوي وي واضح کړي.